# د سولې په ټينګښت کې د ځوانانو ونډه

پوهنيار محمد ابرار رحيمي، اسلامي ثقافت څانګه، شرعياتو پوهنځی، لغمان پوهنتون

**لنډيز**

سوله د الله تعالی لوی نعمت دی، چې د ژوند ډېرې نېکمرغۍ ورسره تړلي دي، امنيت الله تعالی د لويو نعمتونو په لړ کې ياد کړی دی او د امنيت په مقابل کې الله تعالی د بنده ګانو څخه د عبادت غوښتنه کړې ده، دا چې د امنيت راتلو لپاره يوه وسيله سوله ده، نو ما پر همدې اساس د سولې په ټينګښت کې د ځوانانو رول تر عنوان لاندې ليکنه انتخاب کړه.د دې څېړنې هدف د سولې په ټينګښت کې د ځوانانو هڅې روښانه کول، په ټولنه کې د سولې د ټينګښت پر وړاندې د ستونزو تشخيص، د ټولنې په پرمختګ کې د سولې رول او داسې نور دي.اوس مهال د داسې څېړنې ترسره کول ډېر اړين دي، ځکه زموږ ډېری ځوانان د ارزښتناکو کارونو پر ځای په بې ارزښته او بې ګټې کارونو کې مشغول شوي دي او ډېرو يې خپل هدف هېر کړی او په نورو لارو روان شوي دي، نو بايد چې دوی اصلي هدف ته متوجه او د اصلي موخو ترلاسه کولو ته وهڅول شي.دا څېړنه په کتابتوني شکل ترسره شوې، چې پکې د مختلفو مصادرو او مراجعو څخه استفاده شوې ده، ليکنه په سريزه، منځپانګه او پايله مشتمله ده، چې په لويو او کوچنيو عنوانونو ويشل شوې ده او په پای کې يې اړينو نتائجو ته ځای ورکړل شوی دی.د دې څېړنې په ترسره کولو سره به روښانه شي چې سوله ډېر ارزښت لري او په سوله کې د ځوانانو رول ډېر اړين دی او ځوانان کولای شي په سيمه کې سوله راولي.

**کليدي کليمې:** سوله، ځوانان، اسلام

## سريزه

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ وَنَسْتَعِينُهُ، مَنْ يَهْدِهِ اللهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ. أَمَّا بَعْدُ: اسلامي شريعت داسې دين دی چې د انسانيت ټولې خواوې يې په پام کې نيولي او د هغې لپاره يې مناسب احکام راليږلي دي، اسلامي شريعت د يو انسان د ژوند هر پړاو ته ځانګړې پاملرنه کړې، په کوچنيوالي کې يې ورته ځانګړي حقوق ورکړي، څو په آرامه او ډاډمنه فضا کې رالوی شي، په ځوانۍ کې يې ورباندې ګڼ شمير مسؤوليتونه اچولي، څو په کړو وړو لارو د تللو څخه ځان وژغوري او په بوډاتوب کې يې عبادت کولو ته هڅولی او له ده څخه يې ډيری بوج د ده په اولادونو اچولی، څو عبادت ته وزګار شي او له خپل رب سره ټينګه اړيکه وساتي، دا چې په هېواد کې د لسيزو جګړو او بدبختيو د هر ځوان او سپين ږيري په روان ناوړه اغېز کړې ده او په دې لټه کې دی چې څنګه په هېواد کې يو سوله ييز چاپېريال جوړ شي او د جنګونو څخه وژغورل شي، نو د دې لپاره اړينه ده چې په سوله کې د علماوو، سپين ږيرو، ځوانانو او سياستوالو رول وڅېړل شي، ما په خپله څېړنه کې د سولې په ټينګښت کې د ځوانانو په رول باندې رڼا اچولې، چې څنګه کېدلای شي د ځوانانو په لاس په هېواد کې شته سوله ييز چاپېريال ټينګ شي او د جنګ جګړو څخه مو هېواد د تل لپاره په امن کې پاتې شي. له دې امله چې ځوانان د ټولنې لويه برخه تشکيلوي او د دوی په لاس په ښه توګه امنيت او سوله ټينګښت مومي، نو ځکه مې همدا موضوع د خپلې څېړنې لپاره انتخاب کړه.

## د موضوع اهميت

د سولې په ټينګښت کې د ځوانانو رول تر عنوان لاندې څېړنه اوس مهال ډېره ارزښت لرونکې ده، چې د اهميت ځينې نقطې يې په لاندې ډول دي:

سوله او ارامي د عباداتو په سمه توګه ترسره کولو لپاره اړینه ده او عبادت د دنیا او آخرت د کامیابۍ او خوشحالۍ لامل دی، نو باید چې په اړه یې څېړنه ترسره شي. اوس مهال ډېرى ځوانان د خپل ارزښت څخه غافل دي په دې لیکنې سره هغوی ته د دوی ارزښت په ګوته کېږي او د وړتیاوو څخه یې سالمه استفاده کېږي.په داسې څېړنو سره ځوانان، او څېړونکي هڅېږي چې د ټولنې د نیمګړتیاوو اصلاح ته متوجه شي او په خپل استعداد یوه پرمختللې ټولنه رامنځته کړي.

## د څېړنې ستونزه

هېواد مو په وروستیو دوه کلونو کې د یوې بې سارې سولې او امنیت شاهد دی، چې په تېرو څلورو لسیزو کې داسې امنیت او ارامي د هېوادوالو په ذهن کې نه وو، دا چې د دې امنیت او سولې د ټینګښت لپاره څه پکار دي، ځوانان په دې برخه کې کوم مسؤولیت لري او د کومې لارې کولای شي د امنیت په ټینګښت کې ونډه واخلي، په دې څېړنه کې به پرې بحث شوی او هغه موارد په ګوته شوي چې د هغې لارې کولای شي ځوانان مو د هېواد ګټلې سوله او ارامښت خوندي وساتي، ستونزه دا ده چې د اشغال په دوره کې پر ځوانانو باندې د بېلابېلو بهرنیو مؤسسو او استخباراتي ادارو له لوري کار شوی او د هغوی د ذهنیت بدلولو لپاره بېلابېل پروګرامونه په کار اچول شوي، همدا راز د ډېرو خلکو په ذهنونو کې د امنیت د اخلال په اړه تشویش شتون لري او د پېښېدونکې نا امنۍ څخه رنځ وړي، چې اوس مهال د دغه ذهنیت لرې کول، ډېر وخت، کار او لګښت ته اړتیا لري، البته علماء، سیاسیون، چارواکي، استادان او څېړونکي که په خپلو برخو کې د ځوانانو د اصلاح لپاره کار وکړي او د هغوی ذهنیت ته مثبت ټکي داخل کړي، چې دا څېړنه هم د دغه ستونزې د حل لپاره یوه هڅه ده.

**د څېړنې موخې**

د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو رول په ډاګه کول.

ځوانان د سولې ټینګښت ته هڅول او د سولې او امنیت په خوندیتوب کې د دوی ارزښت څرګندول.

هغه موارد په ډاګه کول چې د هغې لارې ځوانان کولای شي شته سوله او امنیت وساتي او د پېښېدونکې نا امنۍ په اړه منفي تبلیغات ختم کړي.

د ټولنې په اصلاح او پرمختګ کې د ځوانانو ارزښت په ډاګه کول.

**تیرو لیکنو ته کتنه**

تر دې دمه چې ما څومره پلټنه وکړه د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو د رول په هکله مې هیڅ مستقله علمي لیکنه پیدا نه کړه، چې د هېواد په ملي ژبو لیکل شوې وي، که څه هم په عام ډول د سولې په اړه ځینې لیکنې ترسره شوي دي، چې په دې ځای کې ترې یادونه کوم.

۱. د صلحې زده کړې، ښوونیار عبد البصیر حکمت، (۱۳۹٤هـ ش). ننګرهار، جلال اباد، مسلم خپرندویه ټولنه.

په دې کتاب کې د سولې پېژندنه، د اهمیت په اړه یې آیتونه او احادیث او په پخوانیو وختونو کې د سولې د تړون ځینې نمونې ذکر شوي دي.

څېړونکی یې دې پایلې ته رسېدلی دی، چې سوله یو شرعي اصل دی او د شخړو د حل لپاره غوره لار ده چې اسلامي شریعت ورته اهمیت ورکړی او په پخوانیو وختونو کې ترې په ډېرو پېچلیو مسائلو کې استفاده شوې ده.

۲. دسولې تعلیمات، سوسن وردگ، (۱۳۹۳هـ ش). د محصلینو لپاره مرجع کتاب، د تربیه معلم ریاست.

په یاد کتاب کې د مخکې په څېر د سولې په اړه عمومي مفاهیم وړاندې شوي دي او لیکواله یې دې پایلې ته رسېدلې ده، چې د انسان په ژوند کې سوله ډېر ارزښت لري او باید د لاسته راوړلو لپاره یې کار وشي.

۳. تربیة الشباب الأهداف والوسائل، محمد بن عبدالله الدویش، دارالوطن للنشروالتوزیع سعودي عربستان

په دغه څېړنه کې لیکوال د ځوانانو د روزنې موخې او وسائل څېړلي دي هغه څه یې ذکر کړي چې په هغې سره د ځوانانو روزنه کېږي، که کورنی تربیه، ښوونه او روزنه، په پرمختیایي کارونو مشغولول او داسې نور او څېړونکی یې دې پایلې ته رسېدلی دی، چې ځوانان په ټولنه کې ډېر ارزښت لري، د ځوانی مرحله د شوخی وخت وي، نو باید چې والدین او مشران خپلو ځوانانو ته متوجه وي او د ځوانی په وخت کې یې نېکو کارونو ته وهڅوي.

٤. دور الشباب في رقی الأمم وازدهارها الحضاري علی اساس الدین والعلم والأخلاق من منظور السیرة النبویة، دکتور اشرف عبد الرافع الدرفیلي، مجلة البصیرة، شپږم ټوک لومړی گڼه.

په دې څېړنه کې لیکوال د ټولنې په پرمختگ کې د ځوانانو رول څېړلی دی، چې ځوانان کولای شي د خپلو وړتیاوو او ځواك په وسیله ټولنې ته پرمختگ ورکړي، خو اړینه دا ده چې د ټولنې پرمختگ د دین، علم او نبوي اخلاقو په رڼا کې وي، څو پرمختگ یې اغېزناك او گټور وي.

که څه هم د ځوانانو د اهمیت او په ټولنه کې د دوی دو نهې په اړه څېړنې شوي، خو هغه څېړنې په ټوله کې عمومي دي، هغه څه چې زه غواړم په دې څېړنه کې یې په ډاګه کړم، چې هغه د اوسنی سولې په ټینګښت کې د ځوانانو رول دی، په تېرو څېړنو کې ورته ځای ندی ورکړل شوی، بلکې په هغه څېړنو کې په عام ډول د سولې لارې چارې بیان شوي او یا هم د سولې پر اهمیت بحث شوی او یا د ځوانانو پر ارزښت باندې خبرې پکې شوي دي.

د دې څېړنې توپیر د مخکنیو سره دا دی چې په دې کې یوې مشخصې موضوع ته ځای ورکړل شوی او هڅه شوې چې هغه موارد په ډاګه کړي چې په هغې سره ځوان نسل کولای شي، د هېواد او ټولنې امنیت خوندي وساتي او د خلکو له ذهنونو څخه هغه ذهنیت لرې کړي، چې ګوا کې په راتلونکي کې به امنیت ته ګواښونه پیدا شي او یوځل به بیا تېرو لسیزو ته وروګرځي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ د سولې په راوستلو کې ځوانان څه رول لري؟

۲- ځوانان له کومو لارو کولای شي، د سولې راوستلو ته زمینه برابره کړي؟

## د څېړنې تګلاره

دا څېړنه په کتابتوني شکل ترسره کېږي چې په لویو او کوچنیو عنوانونو به مشتمله وي. په څېړنه کې به د مختلفو علمي مصادرو او مراجعو څخه استفاده شوې. د هر څېړونکي او لیکوال وینا به هغه ته منسوبېږي او د اړتیا پر مهال به څېړونکی خپله تبصره هم پرې کوي. په آخر کې به لاسته راغلې پایلې وړاندې کېږي او ورسره به د ماخذونو فهرست

هم د علمي ليکنې د اصولو سره سم ليکل کيږي. پخواني علمي او څېړنيز کتابونه، انټرنيټ، کمپيوټري کتابتونونه، او داسې نور.

**مناقشه**

**د صلح (سولې) پېژندنه**

سوله د عربي ژبې د ″صلح″ له کلمې اوښتې بڼه ده او صلح او صلاح د فساد ضد دی، ماضي يې صلح، مضارع يې يصلح او مصدر يې صلاحا او صلوحا راځي، چې د روغې جوړې، شخړو ختمولو او ارامۍ په معنی راځي.(ابن منظور، ۱٤۱٤هـ ج۲ ص ۵۱۷).

په المعجم الوسيط کې راغلي: (صَلَحَ، صَلَاح او صَلُوح د فساد لرې کېدو په معنی دی، کله چې يو شی ګټور او مناسب وي، هغه ته صَالِح ويل کيږي. أَصْلَحَ في عمله. يعنې هغه څه يې وکړل چې د ده لپاره ګټور وو. صَالَحَهُ: روغه جوړه يې ورسره وکړه او صَالَحَ عَلَی الشَّيء د اتفاق او همغږۍ په لار ورسره ولاړ)(ابراهيم مصطفی او نور، ۱۳۹۲هـ ج۱ ص ۵۲۰).

د شريعت په اصطلاح کې د سولې په تعريف کې بېلابېل تعريفونه شتون لري، لکه:

۱. (الصلح عبارة عن عقد وضع لرفع المنازعة).(ابن الهمام، ج۸ ص ٤۰۳).

ژباړه: صلح د شخړو ختمولو لپاره د ترسره شوي تړون څخه عبارت ده.

۲. (الصلح انتقال عن حق أو دعوی بعوض لرفع نزاع، أو لخوف وقوعه).(العدوي، ۱٤۱٤هـ ج۲ ص ۳۵۳).

ژباړه: د خپل حق يا دعوی څخه د شخړې د ختمولو او يا په شخړه کې د اخته کېدو له وېرې، تېرېدلو ته صلح ويل کيږي.

۳. ( الصلح دفع الحرب والمخاصمات على شروط تعرف بشروط الصلح)(الزحيلي، ١٤٠٩هـ ج٥ ص ٢٩٣).

ژباړه: سوله د جنګ او لانجو ختمول په هغو شرطونو سره چې د سولې د شرطونو په نوم پېژندل شوي دي.

٤. (لصلح هو عقد يرتفع به التشاجر والتنازع بين الخصوم، وهما منشأ الفساد ومثار الفتن).(الزيلعي، ۱۳۱۳هـ ج٥ ص ۲۹).

دلته زموږ موخه د جنګ جګړو پر مهال د دواړو خواوو تر منځ روغه جوړه کول او په دې سره د جنګ جګړې پای ته رسول دي، چې د دواړو خواوو او ولس په ګټه وي. همدا راز سوله د هغه سالمې فضاء څخه عبارت ده چې په هغې کې ټولې خواوې په مصؤونیت، عدالت او ازادۍ کې ژوند وکړي، کومه چې د شریعت او قانون په چوکاټ کې ټاکل شوي وي.

**د ځوانانو پېژندنه**

ځوان ته په عربي کې فتى وايي. الفتى الشاب أول شبابه بين المراهقة والرجولة.(ابراهيم مصطفى او نور، ۱۳۹۲هـ ج١ ص ٦٧٣).

فتى هغه ځوان ته وايي چې د مراهقيت اوسرېتوب ترمنځ وخت کې قرار لري.

په اسلامي شریعت کې د انسان تر پیدایښت وروسته د بلوغ پورې بېلابېلې مرحلې دي، چې د صبي، طفل، قاصر او حدث په نوم یادیږي، چې د لغوي پېژندنې پر اساس موږ کولای شو دغه الفاظ دوه ډولونو باندېوویشو:

لومړی: د طفل او صبي کلمې چې د انسان د کوچنيوالي د مرحلې نومونه دي او له طفل څخه موخه هغه وي چې بلوغ ته نه وي رسېدلی؛ خو له صبي څخه موخه بيا کوچنی ماشوم دی چې له تي څخه هم نه وي پرې شوی.

دويم: د قاصر او حدث الفاظ چې دا دواړه د عمر د کوچنيوالي سره تړاو لري.(سويقات، ۲۰۱۰م. ص۷).

طفل په لغت کې نازکه، باريک او نرم ته ويل کيږي، عرب وايي: (امرأة طفلة الأنامل) نرم گوتې ښځه ده او ماشوم هم چې نوی پيدا شي نازک او پوست وي، جمع يې (اطفال) راځي، چې په قرآن کريم کې هم استعمال شوې ده، الله جل جلاله فرمايي فرمايي: (وَإِذَا بَلَغَ الْأَطْفَالُ مِنْكُمُ الْحُلُمَ فَلْيَسْتَأْذِنُوا كَمَا اسْتَأْذَنَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ كَذَلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ)[النور: ۵۹ آيت].

ژباړه: او کله چې ستاسې ماشومان بلوغ ته ورسيږي؛ نو بيا دې دوی هم داسې اجازه غواړي لکه چې تر دوی مخکې (يادو شويو) کسانو اجازه غوښتله همدا شان الله جل جلاله تاسې ته خپل آيتونه په وضاحت سره بيانوي او الله جل جلاله پوهه او حکمتونو والا دی.(د افغانستان جيدو علماوو ژباړه، ج۲ ص ۳۳۶).

د طفوليت مرحله د انسان له ژوند څخه پيلېږي او تر بلوغ پورې غزيږي، (طفل) د طا په کسرې سره له هر شي څخه کوچني ته ويل کيږي، که عين وي او که حدث، (طفل) د طا په فتحې سره نازک او باريک ته ويل کيږي، (طفل) او (طفيلة) کوچنيانو ته ويل کيږي، جمع يې (اطفال) راځي، ابو الهيثم وايي: صبي ته طفل ويل کيږي او دا مرحله يې له هغه وخته پيلېږي چې له مور څخه راپيدا شي او آن تر بلوغ پورې وي.(ابن منظور، ۱٤۱٤هـ ج۱۱ ص ٤۰۲).

(طفل) د نارینه او ښځینه، مفرد، تثنیه او جمع ټولو لپاره صفت واقع کېږي، عرب وایي: (جاریة طفل، جاریتان طفل، جوار طفل، غلام طفل، غلمان طفل)، همدا راز مؤنث، تثنیه او جمع یې هم استعمالیږي، لکه (طفل، طفلة، طفلان، اطفال)، (غلام طفل) هغه ماشوم ته ویل کیږي چې لاسونه او پښې یې ډېر نازکه وي.(ابن منظور، ١٤١٤هـ ج١١ ص ٤٠٢).

د طفولت اصطلاحي تعریف فقهاوو د لغوي تعریف څخه نه دی جلا کړی او په هماغه مرحله باندې یې اطلاق کوي چې په لغت کې ورته ویل شوې؛ خو بیا هم ټولنپوهانو طفولت داسې تعریف کړی دی: (الطفولة هي: تلك الفترة المبكرة من الحياة الإنسانية التي يعتمد فيه الفرد على والديه اعتمادا كليا فيما يحفظ حياتها ففيها يتعلم الطفل ويتمرن للفترة التي تليها وهي ليست مهمة في حد ذاتها بل هي عبارة عن جسر يعبر عليه الطفل حتى النضج الفسيولوجي والعقلي والنفسي والاجتماعي والخلقي، والروحي والتي تشكل خلالها حياة الإنسان ككائن اجتماعي)(موسی نجیب موسی معوض، ۲۰۱۲م).

طفولت د انسان د ژوند هغه نوکۍ مرحلې ته ویل کیږي چې په هغې کې یو فرد ټوله تکیه په مور او پلار کوي چې هغوی د ده د ژوند ساتنه وکړي او په دې پړاو کې ماشوم د راتلونکې مرحلې لپاره زده کړه کوي او چمتو والی نیسي، دا پړاو پخپله هدف نه وي، بلکې دا د یو پول په حیث وي چې ماشوم په دې سره فزیکي، عقلي، نفسي، ټولنیز، اخلاقي او روحي کمال ته رسیږي او د دې په مټ له انسان څخه یو ټولنیز موجود جوړیږي.

علماوو د ځوان لپاره کوم ځانګړی تعریف نه دی کړی، خو د هغوی له توضیحاتو داسې معلومیږي چې د ځوانۍ مرحله د طفولیت څخه وروسته پیل کیږي او د طفولیت پېژندنه مو مخکې ولوسته، پر همدې اساس ځواني د بلوغ څخه پیلیږي او د دې لپاره دلیل دا مبارک حدیث دی:

عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: " عَرَضَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ أُحُدٍ فِي الْقِتَالِ، وَأَنَا ابْنُ أَرْبَعَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَلَمْ يُجِزْنِي، وَعَرَضَنِي يَوْمَ الْخَنْدَقِ، وَأَنَا ابْنُ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، فَأَجَازَنِي، قَالَ نَافِعٌ: فَقَدِمْتُ عَلَى عُمَرَ بْنِ عَبْدِ الْعَزِيزِ وَهُوَ يَوْمَئِذٍ خَلِيفَةٌ، فَحَدَّثْتُهُ هَذَا الْحَدِيثَ، فَقَالَ: «إِنَّ هَذَا لَحَدٌّ بَيْنَ الصَّغِيرِ وَالْكَبِيرِ، فَكَتَبَ إِلَى عُمَّالِهِ أَنْ يَفْرِضُوا لِمَنْ كَانَ ابْنَ خَمْسَ عَشْرَةَ سَنَةً، وَمَنْ كَانَ دُونَ ذَلِكَ فَاجْعَلُوهُ فِي الْعِيَالِ».(النيسابوري، ج۳ ص ۱۴۹۰، حديث ګڼه: ۱۸۶۸).

ژباړه: له عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: زه د احد په ورځ د جنګ لپاره نبي صلی الله عليه وسلم ته وړاندې شوم او عمر مې څوارلس کلونه وو، نو اجازه يې رانه کړه او د خندق په ورځ چې پنځلس کلن وم، بيا ورته وړاندې شوم، نو اجازه يې راکړه. نافع وايي: زه د عمر بن عبدالعزيز رضی الله عنه خوا ته راغلم او دا حديث مې ورته ووايه او هغه دا مهال خليفه و، نو هغه وويل: ((دا د کوچنيوالي او لوی والي تر منځ بريد دی، خپلو واليانو ته يې وليکل چې څوک پنځلس کلن وي د هغه لپاره د بيت المال څخه برخه مقرره کړي او که څوک تر دې ښکته وي، هغه دې په عيال کې وشمېري.

د مشکاة شريف په حاشيه کې يې د (فاجازني) تشريح په لاندې ډول ليکلې ده:

(فأجازني: قيل: أي أجازني في المقاتلة، وقيل: كتب الجائزة وهي رزق الغزاة. هذا فرق ما بين المقاتلة إلخ. أي: إذا بلغ الصبي خمس عشرة سنة دخل في زمرة المقاتلة، وأثبت في الديوان اسمه، وإذا لم يبلغ عُدَّ من الذرية، ولو احتلم بعد استكمال تسع سنين حكم ببلوغه، وكذا إذا حاضت الجارية، ولا احتلام، ولا حيض قبل بلوغ التسع)(الجرجاني، ۱۴۳۱هــ ج۳ ص ۲۶۵).

ژباړه: د فاجازني معنی دا ده چې ما ته يې په جنګياليو کې د ګډون اجازه راکړه او يا يې راته جائزه وليکله، کوم چې غازيانو ته خوراک ورکول کېږي. دا د جنګيالو او نورو تر

منځ توپیر دی. الخ. یعنې: کله چې ماشوم پنځلس کلونو ته ورسېږي، نو د جنګیالیو په لیکو کې شاملیږي، په کتاب کې به یې نوم ولیکل شي، خو که پنځلسو ته ندی رسېدلی، نو په ماشومانو کې به شمېرل کیږي، خو که د نهه کلنۍ پوره کېدو وروسته یې احتلام وشو، نو د بلوغ حکم به پرې کیږي، همدا راز که انجلۍ حائضه شوه نو همدا حکم یې دی، خو تر نهه کلنۍ مخکې حیض او احتلام اعتبار نلري.

د هلک د بلوغ په لحاظ لومړي حد (۱۲)کلونه، متوسط یې (۱۵) او نهایي حد یې (۱۸) کلونه دي.

او په جسماني لحاظ احتلام اومېږانه وهل او له نامه لاندې تور او ګڼ ویښته زرغونېدل او د عقل پوخوالی دی.(ابن عابدین، ج٥ ص ١٠٤).

د انجلۍ لومړی عمر (۹) کلونه، دویم یې (۱۲) او نهایي یې (۱۵) کلونه دی. همدا راز د حیض راتلل، احتلام کېدل او حمل اخیستل هغه څه دي چې د انجلۍ په بلوغ دلالت کوي.(الزحيلي، ١٤٠٩هـ ج٤ ص ١٢٥).

## د سولې او امنیت اهمیت او لارې چارې

سوله یو ارزښتناک او اړین عمل دی، چې په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې یې بیان شوی دی، په دې ځای کې د سولې د اهمیت اړوند یو آیت او یو حدیث ذکر کوم.

## د سولې اهمیت په قرآن کریم کې

الله جل جلاله فرمایلي دي: (وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا فَإِن بَغَتْ إِحْدَاهُمَا عَلَى الأُخْرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبْغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمْرِ اللَّهِ فَإِن فَاءتْ فَأَصْلِحُوا بَيْنَهُمَا بِالْعَدْلِ وَأَقْسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ) [الحجرات: ۹ آیت].

ژباړه: اوکه له مؤمنانو څخه دوه ډلې پخپلو مينځو کې په جنګ شي نو دهغو په مينځ کې صلح وکړئ. بيا که له هغو نه يوه ډله پربلې تيری وکړي نوله تيري کوونکې سره وجنګيږئ ، تردې پورې چې هغوی دالله دحکم خوړته راوګرځي . بيا کله چې هغوی راوګرځي نو دهغوی په مينځ کې په عدل سره سوله وکړئ ، او انصاف وکړئ چې الله انصاف کوونکي خوښوي.

په دې ايت کې دې ته اشاره شوې چې کله د مؤمنانو دوه ډلې خپل منځ کې وجنګيږي؛ نو مسلمانانو ته دا حکم دی، هغه مسلمانان چې په دغه دواړو کې شامل نه وي، يعنې د الله تعالی په نزد د مسلمانانو دا کار نه دی چې د هغی دملت دوه ډلې دې په خپلو کې جنګونه کوي او هغوی دي ناست وي تماشه دې کوي، بلکې دا د افسوس ډک حالت دی چې کله را پيدا شي نو ټولو مؤمنانو ته پکار دي چې فکر مند شي او د هغوی د اصلاح لپاره چې ترې څومره کېدای شي هغومره کوشش دې وکړي که چېرته دوی جنګ ته دوام ورکړي نو بيا هم مسلمانانو ته پکار نه ده چې زياتی کوونکی خپل زياتي ته پرېږدي چې د صلحې ټول کوششونه نا کام شي، نو بيا دې وګوري چې په حقه څوک دی او زياتی څوک کوي چې څوک په حقه وي د هغوی ملګرتيا دې وکړي او چې څوک زياتی کوي د هغوی سره دې وجنګيږي.

هر کله چې دوی د الله جل جلاله حکم ته واپس شي نو بيا د دوی په خلاف د طاقت استعمال منع دی د دې نه وروسته چې څوک څه کوي نو هغه به بيا پخپله زياتی کوونکی وي پدې ايت کې يوازې د صلحې کولو حکم نه دی بلکې عدل او انصاف سره د صلحې کولو حکم دی.

د دې نه معلومه شوه چې د الله تعالی په وړاند د هغې صلحې هيڅ قدر نشته چې په هغه کې د حق او د باطل لحاظ ونه ساتلی شي او تش د جنګ ښوولو لپاره صلحه وکړی

شي، د مسلمانانو په منځ کې چې کله جنګ و نښلي نو دا ایت د هغوی په باره کې د شرعي قانون اصلي بنیاد دی.(المودودي، ۲۰۰۰م، ج۵ ص ۷٦– ۷۸).

**د سولې اهمیت په نبوي سنتو کې**

په نبوي احادیثو کې هم د صلحې د اهمیت اړوند نصوص شته، چې زه ترې په دې ځای کې یو حدیث رانقلوم.

عَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ أَنَّ أَهْلَ قُبَاءٍ اقْتَتَلُوا حَتَّى تَرَامَوْا بِالحِجَارَةِ، فَأُخْبِرَ رَسُولُ اللَّهِ γ بِذَلِكَ، فَقَالَ: «اذْهَبُوا بِنَا نُصْلِحُ بَيْنَهُمْ».(البخاري، ۱۳۸۱هـ ج۱ ص ۳۷۱).

ژباړه: د سهل بن سعد نه روایت دی چې د اهل قباء خلکو په خپل منځ کې سره جنګ وکړو تر دې پورې چې یو بل یې په تیګو وویشتل، پس رسول الله ته خبر ورکړل شو نو په دې خبرې سره (جنګ سره) پس رسول الله صلی الله علیه وسلم و فرمایل راځئ چې مونږ ټول لاړ شو او د هغوی ترمنځ صلح وکړو.

**د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو رول**

**د ځوانۍ فضیلت او اهمیت**

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د هغه ځوانانو ستاینه کړې چې د دین لپاره یې قرباني ورکړې وه او د الله جل جلاله د رضا حاصلولو لپاره یې خپل کور کلی پرېښود او د ظالمانو د پنجو نه د ځان خلاصولو او د توحید ساتلو لپاره یې په غره کې د یو غار لوري ته مخ کړ، الله جل جلاله فرمایلي دي: ( نَحْنُ نَقُصُّ عَلَيْكَ نَبَاَهُمْ بِالْحَقِّ ۚ اِنَّهُمْ فِتْيَةٌ اٰمَنُوْا بِرَبِّهِمْ وَ زِدْنٰهُمْ هُدًى ۱۳ وَّ رَبَطْنَا عَلٰى قُلُوْبِهِمْ اِذْ قَامُوْا فَقَالُوْا رَبُّنَا رَبُّ السَّمٰوٰتِ وَ الْاَرْضِ لَنْ نَّدْعُوَا مِنْ دُوْنِه اِلٰهًا لَّقَدْ قُلْنَاۤ اِذًا شَطَطًا ۱۴ هٰۤؤُلَاۤءِ قَوْمُنَا اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِه

اِلٰهًا لَّوْ لَا يَأْتُوْنَ عَلَيْهِمْ بِسُلْطٰنٍۭ بَيِّنٍ ؕ فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا ؕ۱۵ ).[الکهف: ۱۳- ۱۵ آیتونه].

ژباړه: موږ تا ته د دوی بیان په حقه کوو، بېشکه چې دوی ځوانان وو چې پر خپل رب یې ایمان راوړی و او موږ دوی لره هدایت زیات کړی و، او موږ د دوی زړونه کلک کړي وو کله چې دوی ودرېدل او ویې ویل زموږ رب د اسمانو او ځمکو رب دی ، موږ هیڅکله له هغه پرته بل اله نه رابلو (که مو دا کار وکړ) خامخا به موږ په دې وخت کې له حد نه تېره خبره کړې وي، دغه کسان چې زموږ قوم دی دوی له الله جل جلاله پرته نور آلهه نیولي دي، ولې دوی د دې په الوهیت ښکاره دلیل نه راوړي، پس څوک ډېر ظالم دی د هغه چا نه چې پر الله جل جلاله باندې دروغ جوړوي.(د افغانستان د جیدو علماوو ژباړه، ١٤١٤هـ ج١ ص ١٤٦٦).

عَنْ ابْنِ مَسْعُودٍ، عَنِ النَّبِيِّ γ قَالَ: «لَا تَزُولُ قَدَمُ ابْنِ آدَمَ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عِنْدِ رَبِّهِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ خَمْسٍ، عَنْ عُمُرِهِ فِيمَ أَفْنَاهُ، وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَ أَبْلَاهُ، وَمَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَ أَنْفَقَهُ، وَمَاذَا عَمِلَ فِيمَا عَلِمَ».(الترمذي، ١٣٩٥هـ ج4 ص ٦١٢، حدیث ګڼه: ٢٤١٦).

ژباړه: له عبد الله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (د یو انسان قدمونه به تر هغې پر یو ځای باندې وي چې د پنځو شیانو په اړه ترې پوښتنه ونه شي، د عمر په اړه چې په څه کې یې تېر کړی دی، د ځوانۍ په اړه چې په څه کې یې زړه کړې ده، د مال په اړه چې له کوم ځایه یې ګټلی او په څه کې یې لګولی دی او د علم په اړه چې په دې باندې یې څه عمل کړی دی).

په دې حدیث کې هم د ځوانۍ فضیلت معلومیږي، څکه دغه وخت ته الله جل جلاله ارزښت ورکړی او د انسان څخه بیا د دې پوښتنه هم کوي.

**په اسلام کې د ځوانانو مسؤوليتونه**

داهغه مسوليتونه دي چې په پايله کې يې سوله ايزه فضا او هوسا ټولنه رامنځته کيږي دا چې ځوانان د ټولنې ستنې او اساس گڼل کيږي، نو پر همدې اساس اسلامي شريعت دوی ته يو لړ مسؤوليتونه سپارلي، چې په لنډ ډول ترې يادونه کوم.

**۱. د اسلامي تربيې زده کړه او د اسلام په اړه ژور فهم**

ځوانان مکلف دي چې اسلامي زده کړې وکړي او د اسلام په اړه ژوره پوهه ولري، څو له دې لارې ټولنې ته خدمت وکړي او ټولنه د سوکالۍ په لور سوق کړي.

**۲. د شيطان د نفوذ د لارو چارو بندول**

ځوانان بايد هغه لارې وپېژني چې د هغې څخه شيطان پر انسان باندې حمله کوي او اغېز پرې کوي او د هغې د بندولو لپاره لاس په کار شي، ځکه کله چې د ټولنې څخه د شيطان د لاسوهنې مخنيوی وشو، په خپله اصلاح کيږي.

**۳. د اخلاقي فساد څخه ځان ژغورنه**

په عامه توگه په ځوانۍ کې جنسي غريزه ځواکمنه او شهوتونه زيات وي، چې ډېر ځل انسان په اخلاقي فساد کې اخته کوي، نو ځوانان مسؤوليت لري چې د اخلاقي فساد څخه ځان وساتي.

**٤. پوخ عزم او اراده درلودل**

همدا راز ځوانان مکلف دي چې عزم به يې پوخ او اراده به يې کلکه وي، څو ټول کارونه په پوره دقت او کره والي سره ترسره کړي.

**۵. د پرديو له تقليد څخه ځان ساتل**

په اسلامي ټولنه کې ځوانان مکلف دي چې په کلتور کې د پرديو څخه تاثر وانخلي او هغه څه باندې لاړ شي چې دين او مذهب يې اجازه ورکړې وي.

**٦. د اوسني وخت په ګټورو فنونو اهتمام کول**

اوس مهال چې ټکنالوژۍ پرمختګ کړی او د نړۍ اقتصاد، سياست او پرمختګ په ټکنالوژۍ پورې تړلی دی، پر همدې اساس ځوانانو ته پکار دي چې د وخت د ګټورو فنونو سره ځان اشنا کړي او له دې لارې خپلې ټولنې ته پرمختګ ورکړي.

**۷. د ځان لپاره هدف ټاکل**

ځوانان مکلف دي چې د خپل ژوند لپاره هدف وټاکي او د لاسته راوړلو لپاره يې مشروع لارې وکاروي، څو ژوند يې عبث او په اخوا دېخوا کارونو کې تېر نه شي.

**د سولې په برخه کې د ځوانانو رول**

په سوله کې د ځوانانو رول څرګند دی او انکار ترې نشي کېدای؛ ځکه ځوانان دي چې انقلابونه راولي او په ټولنه کې د بدلون لامل کيږي، دا چې په هېواد کې د سولې په برخه کې د ځوانانو د ونډې کچه څومره ده، په دې ځای کې به يې بيان وشي.

**د سولې په راوستو کې د ځوانانو د ونډې کچه**

د هرې ټولنې په جوړښت او پرمختګ کې د ځوانانو رول اړين او د پام وړ دی، ځکه په تاريخونو کې ځوانان د هېوادونو د پرمختګ انقلابيان ياد شوي دي، د همدې خبرې په پيوند وايو چې ځوانان د يوې ټولنې او هېواد هغه قوي ترين او له انرژۍ ډک ځواک دی چې د ټولنې د ملا د تير او د هېواد د پرمختګ د کونجي حيثيت لري.

ځوانان د خپلې لېوالتیا او جرات له مخې هر درونډ مسوولیت او کار ته اوږه ورکولی او هېواد د بیارغونې، اقتصادي پیاوړتیا، اغېزمنو بدلونونو او په مجموع کې د پراختیا لور ته رهي کولی شي.

ځوانان له خپلې انرژۍ څخه د کار اخیستلو په وسیله د سولې په راوستو کې خورا اهم فکټور دی او باید په دې لار کې ځوانان خپلې هڅې ونه سپموي، ځکه دا ځوانان دي چې ټولنه او هېواد د نېکبختۍ او بدبختۍ خواته بیایي.

د باثباته او سوله ایزې سیمې د پایښت لپاره د ځوانو افغانانو فعال ګډون خورا ډېر اړین دی؛ نو ځکه باید ځوانان د سولې په ټینګښت کې خپله چوپتیا ماته، ګونګوالی محوه او د سولې د ټینګښت لپاره په ژبه، قلم او بدني ځواک سره ګامونه پورته کړي، ځکه چې د ټولنې ټولې طبقې او په تېره بیا ځوانانو په جګړو کې ډېر زیان لیدلی، ژوند یې بایللی، د تورو لمبو او د خونړیو جنګونو او چاودنو ښکار ګرځېدلي دي؛ نو ځکه دوی ته پکار دي چې د سولې د ټینګښت لپاره خپلې هڅې جاري وساتي، څو راتلونکی یې روښانه او د دوی په لاسونو کې شي.

د ملل متحد د راپور له مخې اوس مهال په نړۍ کې ۱،۲ ملیارد ځوانان شتون لري چې عمرونه یې د ۱۵– ۲٤ کلونو پورې دي او د اټکل له مخې به یاده شمېره ۷٪ لوړه شي او د پورته عمر لرونکو ځوانانو شمېر به ۱،۳ ملیارد ته ورسیږي (الامم المتحدة، قضایا عالمیة، الشباب)

که واقعیت ته وګورو نو په هېواد کې د ځوانانو شمېر ډېر دی، ځکه په عامه توګه ځوانان د ۱۸– ۳۰ کلنۍ پورې وي، څنګه چې د افغانستان د مدني قانون له مخې تر ۱۸ کلنۍ پورې هلک د رشد عمر نه وي پوره کړی، نو په ځوانانو کې هم نه دي شمېر، خو تر

دې پورته بیا تر ۳۰ او آن تر ۳۵ کلنۍ پورې ځوانان شمېرل کېږي، چې دا شمېره په افغانستان کې زیاته ده، نو ځکه د سولې په ټینګښت کې د دوی رول هم اړین دی.

که چېرې ځوانان د خپل قوت او انرژۍ څخه اغېزمنه او سالمه استفاده ونه کړي؛ نو د مایوسۍ او بې کارۍ له وجې په نشو، وژنو، غلاو او نورو ناوړه کارونو او جنایتونو لاس پورې او پرې به اخته شي، چې په دې سره بیا د هېواد دغه ډاډمنه او ارامه فضا زیانمنېږي او امنیت یې له ګواښ سره مخ کېږي.

## د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو د ونډې ارزښت

ځوانان د ټولنې د نفوس ډېره برخه جوړوي، له همدې امله د ټولنې د چارو پرمخ بېولو کې یې رول او ارزښت زیات دی او د ځوانې انرژۍ لرلو له امله د دوی هڅې د سولې په ګډون په هره برخه کې خورا ارزښتمنې دي، له همدې امله د سولهییز فکر خپرولو، تبلیغولو او دودولو کې د ځوانانو کار او هلې ځلې خورا مهم رول لري.

دوی فکر کوي چې ځوانان د سولې د تبلیغولو او سوله ییز فکر خپلولو له لارې کولی شي چې د مخالفو ځوانانو ذهنونه روښانه کړي ، هغوی په دې وپوهوي چې له هېواد او ولس سره دښمني او د پردیو د برنامو د پلي کولو په موخه جنګ او ناامني د هیچا په خیر نه ده.

ځوانان په مختلفو ځایونولکه مساجدو، مکاتبو، کلیو، ودونو او پوهنتونونو کې د سولې په ارزښت ، اړتیاوو او ګټوخبرې او بحثونو له لارې خپل افکار او نظریات سره تبادله کړي.

د دوی له انده دوی باید په خپلو خبرو کې سوله د اسلام له نظره او د سولې څرنګوالی په اسلامي احکامو کې خلکو ته په مستندو دیني دلایلو سره وړاندې کړي، هغوی ته دا

په ډاګه کړي چې سوله یې پر ټولنیز ژوند، چارو، کړو وړو او لاسته راوړنو څه اغېز لري؟.

همدارنګه ډېری ځوانان په پوهنتونونو کې هم سره ویني اوهم یو ځای کیږي، که همدا ځوانان د سولې اړتیا او ګټو باندې سره وغږیږي او خپل ذهنونه او افکار سره تبادله کړي، بیا له سوله ییز فکر او نظریاتو سره خپلو کلیو ته لاړ شي، ولسونو ته لاړ شي، ښوونځیو ته لاړ شي او هلته د ویناو، شعرونو، ادبي ټوټو، تمثیلي ټوټو، تیاتر، ډرامو او نورو په بڼه د سولې پیغام خلکو ته تبلیغ کړي، نو کولی شي چې مخالف ځوانانو باندې مثبت اغېزولري او له سولې سره د هغوی مینه او لېوالتیا زیاته کړي.

## د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو لپاره ګټور فرصتونه

د سولې په ټینګښت کې د ځوانانو فرصتونه په لاندې توګه په ګوته کولای شو:

۱. ځوانان کولای شي له خپلې انرژۍ څخه په ګټې اخیستنې په ټولنه کې د سولې د اهمیت او د ځوانانو او ماشومانو پر راتلونکې باندې د تامین شوې سولې د اغېزو په هکله همغږي رامنځته کړي او پخلاینه وکړي.

۲. ځوانان کولای شي خپل هغه همزولي چې د مغرضو کړیو له لوري جنګ کولو ته هڅول کیږي، قانع کړي، ذهنیت یې ورجوړ کړي او دې ته یې پام راواړوي، چې د دوی په سرغړونو او مخالفانه کړنو سره په امنیت کې ښه والی نه راځي، بلکې لا پسې نور خرابیږي او د دوی پر راتلونکي هم ناوړه اغېز کوي.

۳. ځوانان کولای شي چې د شته سولې په ټینګښت او اهمیت څېړنې وکړي، د ناامنۍ لاملونه پیدا او د لمنځه وړلو لپاره یې د علمي څېړنو، مقالو، راپورونو، شعر او ویناوالۍ له لارو ګام پورته کړي او په خلکو کې سوله‌ییز فکر خپور کړي.

٤. ځوانان دې د سولې د ټینګښت په لارو چارو او د نا امنۍ او جنګ جګړو پر زیانونو څېړنې وکړي او پایلې دې یې د لوستونکو سره د ټولنیزو رسنیو له لارې شریکې کړي.

٥. ځوانان کولای شي چې د سولې د ټینګښت لپاره د همغږۍ غونډې جوړې کړي، خپل همزولي د هېواد دننه او بهر قانع کړي، څو د غولوونکو له لوري جنګ ته ونه هڅول شي.

٦. اوس مهال ځوانان ټولنیزو رسنیو ته ډېر لاس‌رسی لري، کولای شي د دې لارې نه د سولې په اړه پیغامونه خپاره کړي او د منطقي استدلال له مخې نورو ته په انلاین غونډو کې هم قناعت ورکړي.

٧. ځوانان کولای شي د فردي مجالسو له لارې په مدرسو، ښوونځیو، پوهنتونونو او د دندې په دفترونو کې د سولې پر اهمیت او د جنګ جګړو څخه د ځان ساتنې په موخه منطقي بحثونه وکړي.

٨ـ ځوانان کولای شي د فوځ په لیکو کې په کار کولو سره د هېواد امنیت تامین کړي او پرې نږدي چې مغرضې کړۍ د هېواد با وقاره سوله او امنیت ګواښمن کړي.

**پایله**

١. د سولې په راوستلو کې د اکادمیکو ځوانانو ونډه خورا ډېره ارزښتمنه، ګټوره او د پایلو له مخې ډېره اغېزمنه ده.

٢. د سولې په را وستلو کې د اکادمیکو ځوانانو له ونډې څخه موخه د ژوند په ټولو برخو کې د هغوی نظري او عملي ونډه اخیستل دي.

۳. د سولې په راوستلو کې د اکادمیکو ځوانانو د ونډې ارزښت د هغوی له فزیکي، روحي، جسمي او ټولنیز ارزښت سره نېغ په نېغه تړاو لرلو له کبله ډېر ارزښت لري.

۴. د سولې په را وستلو کې د اکادمیکو ځوانانو د ونډې اغېز د هغوی له تحصیلي موخو ته د رسېدلو په برخه کې د اغېز لرلو له پلوه اغېزمن دی.

۵. د سولې په راوستلو کې د اکادمیکو ځوانانو ګټوره ببلګه، زده کړو ته مخه کول، مدني فعالیتونه کول، په سوله ایزه توګه خپلو موخو ته د رسېدلو له پاره مبارزې کول، لاریون کولو او د خپلې دندې د پاتې کېدا او یا ترلاسه کېدا په پار د سولې د اعمار له پاره له کړیو مبارزو څخه څرګندیږي.

اکاډمیک ځوانان د سولې په ټینګ کې مثبت رول لري او د دوی رول تر نورو عادي ځوانانو ډېر دی، د دې دلائل په لاندې ډول دي:

اکاډمیک ځوانان د بېلابېلو هېوادونو له سیاستونو څخه خبر وي، هغه تحولات چې په هېوادونو کې راغلي او دولتونه وران شوي وي، دوی یې په اسبابو، لاملونو او پایلو باندې پوهیږي او کولای شي د تېر تاریخ او نړیوالو سیاستونو څخه په استفادې په دولت کې د سولې په ټینګښت کې رول ولوبوي اویا هم د سولې د لمنځه وړلو او خرابولو لپاره هڅونه وکړي.

ځوانان د خپل راتلونکي د تامین لپاره هلې ځلې کوي او د نا معلوم راتلونکي څخه ویریږي، د همدې لپاره په ځوانۍ کې احساساتي اقدامات هم ترسره کوي او غواړي چې په کم وخت کې خپلو موخو ته ځان ورسوي.

اکاډمیک ځوانان د هېواد راتلونکی دی، که دوی په سوله‌ییز فکر وروزل شي، په راتلونکي کې د جنګ جګړو او ورانیو څخه لاس اخلي او که په جنګي فکر وروزل شي، راتلونکي ته خطر جوړولای شي.

نو ځکه د اکاډمیکو ځوانانو رول د سولې په ټینګښت کې له عادي ځوانانو څخه ډېر دی.

**وړاندیزونه**

۱. د اطلاعات او کلتور وزارت د ځوانانو چارو معینیت څخه غوښتنه لرم چې د ځوانانو د انسجام لپاره د همغږۍ غونډې جوړې کړي او د ځوانانو د فکري روزنې لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي.

۲. همدا راز د اطلاعات او کلتور وزارت د ځوانانو چارو معینیت، د کار او ټولنیزو چارو وزارت او اړوند وزارتونو څخه غوښتنه لرم چې د ځوانانو لپاره د هېواد دننه د کار زمینه برابره کړي او پرې نه‌ږدي چې ځوانان د بهرنیو هېوادونو له لوري جلب او ذهنیتونه یې د اسلامي نظام پر خلاف جوړ شي.

۳. د افغانستان اسلامي امارت د ریاست الوزراء له مقام څخه غوښتنه کوم چې د هېواده د بهر تللو ځوانانو د بېرته راستنېدو لپاره په ګټورو طرحو کار وکړي او پرې نه ږدي چې د ځوانانو انرژي د نورو هېوادونو د پرمختګ او ودانۍ لپاره د معمولي مادي امتیازاتو په بدل کې مصرف شي.

**ماخذونه**


القرآن الكريم.

ابراهيم مصطفى، ابراهيم انيس او احمد الزيات، المعجم الوسيط. ناشر: دار احياء التراث العربي، بيروت، لومړی چاپ، ۱۳۹۲هـ

ابن الهمام، كمال الدين محمد بن عبد الواحد السيواسي، فتح القدير. ناشر: دار الفكر- بيروت.(ب، ت).

ابن رشد، ابو الوليد، محمد بن احمد بن رشد الحفيد، بداية المجتهد ونهاية المقتصد. ناشر: دار إحياء الكتب العربية- مصر.

ابن عابدين، علاء الدين محمد امين ابن عابدين الشامي، حاشية الرد المحتار على الدر المختار. ناشر: مكتبة رشيديه سركي رود-كويټه.

ابن منظور، محمد بن مكرم بن علي ابو الفضل جمال الدين ابن منظور الانصاري الافريقي. لسان العرب. ناشر: دار صادر- بيروت، ١٤١٤هـ.

البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي، صحيح البخاري. قديمي كتب خانه، كراچی پاكستان، ١٣٨١هـ ١٩٦١م.

الترمذي، ابو عيسى محمد بن عيسى بن سورة السلمي، سنن الترمذي. نا شر: دار احياء الكتب العربية، مصر.

الجرجاني، علامه سيد شريف، الحاشية الشريفية على مشكاة المصابيح، ناشر: مكتبة البشرى، كراچ- پاكستان، لومړی چاپ، ١٤٣١هـ

د افغانستان د جيدو علماوو د ټولنې ژباړه، کابلی تفسير. ناشر: د حرمينو د پاچا ملک فهد چاپخانه. لومړی چاپ. ١٤١٤هـ

الزحيلي، دوکتور وهبة بن مصطفى، الفقه الا سلامي وادلته. دمشق- سورية- دار الفكر، دريم چاپ، ۱۹۸۹م.

الزيلعي، فخر الدين عثمان بن علي بن محجن الحنفي، تبيين الحقائق شرح كنز الدقائق، المطبعة الكبرى الاميرية- بولاق- القاهرة، لومړی چاپ، ۱۳۱۳هـ

سويقات، بلقاسم، المسؤولية الجزائية للطفل في القانون الجزائري. ناشر: جامعة ورقلة كلية الحقوق والعلوم السياسية، ۲۰۱۰م.

العدوي، ابو حسن علي بن احمد الصعيدي، حاشية العدوي على شرح كفاية الطالب الرباني. تحقيق : يوسف الشيخ محمد البقاعي، دار الفكر- بيروت، ۱۴۱۴هـ

المودودي، سيد ابو الاعلى، تفهيم القران. المكتبة الهندية، دربیم چاپ، ۲۰۰۰م.

النيسابوري، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري، صحيح مسلم. نا شر: دار إحياء التراث العربي، بيروت.

الطفولة تعريفات وخصائص، 2013/12/18،www.alukah.net/culture

فضل الهادي وزين، أفغانستان في ظل حكم طالبان.. المكتسبات والتحديثات والفرص. 18/2/2024https://www.aljazeera.net/opinions/